مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۵/۰۷

# غزل

دوې درې ورځې مخکې د طالبانو غایب مشر ملا هبت الله ، چي په بنده ګي قدرت او واک يې قناعت نه دی حاصل سوی، اعلان وکړ چي د ده امر باید د خدای او رسول د امر په څېر ومنل سي. ده به حتماً د قرآن شریف په هغه مبارک آیة تمسک کړی وي چي د الله ج او رسول ص او د اولی الامر اطاعت فرض ګڼي. خو ده دا خبره هېره کړې ده چي د ده رهبرانو مولوی محمدنبي، مولوی یونس خالص او د هغو ملګرو د ظاهر شاه اوشهيد داوود خان د مشروع حکومتونو په مقابل کې نه یوازې بغاوت وکړ بلکه د افغانستان غلیم هیواد پاکستان لمنې ته يې ځانونه واچول او زموږ وياړلی هیواد يې د تل لپاره د پاکستان د منحوسو استخباراتو ځاله وګرځوله. د غایب ملا حکومت، د ده له طرفدارو طالبانو پرته، هیڅ افغان نه دی منلی. هیڅ دول مشروعیت نه لري او د هغه په مقابل کې سر اوږغ پورته کول د هر شريف افغان ملي او وجداني وظيفه ده.

روبیار نن راته راوړی له وطن څخه پیغام دی

چي لښکر د ابوجهل غوره کړی بل مقام دی

ابوجهل اعلان کړی چي زما امر د خدای حکم

څوک چي نه مني زما حکم د هغه سزا اعدام دی

خدایه تا مي په تندي کي دا یوه سجده لیکلي

دي د ختو خدای اخیستی له شیطان څخه الهام دی

پر دې مځکه داسي ډیرو د خدایی جامي ګنډلي

چي دعوه د خدایی وکړي نیل يې برخه او انجام دی *

دې مېږي ته خدای په قار دی چي وزر یې دی ورکړی

خپل تبر ورڅخه هېر دی په پردي سپل کي سرسام دی

لا تر څو راته په خوب کي شرنګوې پاني پېتونه

مصلی د میر ویس خان ده باندي ناست پردی غلام دی

فرشتو په توره شپه کي زموږ د بخت قلم وهلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بلا ډېر کلونه تیر سول په ماښام پسي ماښام دی
خدای مي غاړه بنده مه کړه کله شک راته پیدا سي
چي غایب زموږ له وطنه که پردی ملا امام دی
پر پردیو کنډولیو چي لوی سوی وي پردی وي
د بادار د رمو مل دی زموږ شپانه هسي بدنام دی
جهاني په دې وطن کي له قلمه پرهېز ښه دی
کام په برخه د ګونګیانو ژبور پکښي ناکام دی.

د ۲۰۲۶ کال د اپرېل د میاشتي دریمه، ویرجینیا.

* فرعون چي د خدایی دعوه کړې وه بالآخره له خپل لښکر سره د نیل په سیند کي ډوب سو.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ